امارت اسلامی افغانستان
اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث
ریاست اطلاعات و نشرات



# هفته نامه مدیریت حوادث

۱۶ الی ۲۱ حوت ۱۴۰۴

شماره یکصدو چهل و ششم

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د سویس د پراختیا او همکارۍ ادارې له رئیس سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، په خپل کاري دفتر کې د سویس هېواد د پراختیا او همکارۍ ادارې له رئیس اریک مارکلی، د هغه له مرستیالې آغلې پامیله استتاکیس او مل پلاوي سره د ۱۴۴۷ کال د رمضان المبارک ۲۲ نېټه وکتل او د دوه اړخیزو همکاریو د پراختیا په اړه یې خبرې وکړې.

محترم ترابي صاحب د ادارې د فعالیتونو د تشریح پر مهال وویل چې دا اداره پر پنځو اساسي موخو؛ وقایې، د خطر کمول، چمتووالي، ځواب وینې...

ادامه در صفحه۲

## دیدار رئیس عمومی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث با رئیس دفتر UN-OCHA در افغانستان



محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، رئیس عمومی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، در دفتر کاری خویش با خانم ریمی مارشین، رئیس دفتر هماهنگی امور بشردوستانه ملل متحد (UN-OCHA) در افغانستان...

ادامه در صفحه۳

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د ماشومانو د ملاتړ مؤسسې ترمنځ ټولټال د (۸۴۱,۱۲۲) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، په خپل کاري دفتر کې د ماشومانو د ملاتړ مؤسسې له مرستیال محمود پاچا سره د ۱۴۴۷ کال د رمضان المبارک ۱۹ نېټه وکتل او د ګډو همکاریو...

ادامه در صفحه ۴

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بلخ برای ۲،۲۰۰ خانواده مستحق مساعدت‌های نقدی و غذایی توزیع کرد

براساس تفاهم‌نامه امضا شده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه SFL که تمویل‌کننده این پروژه سازمان جهانی غذا (WFP) می‌باشد، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بلخ با همکاری مؤسسه...

ادامه در صفحه ۴

@afghanistanndma
Afghanistanndma
andma.gov.af
0202104926

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د سویس د پراختیا او همکارۍ ادارې له رئیس سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، په خپل کاري دفتر کې د سویس هېواد د پراختیا او همکارۍ ادارې له رئیس اریک مارکلی، د هغه له مرستیالې آغلې پامیله استتاکیس او مل پلاوي سره د ۱۴۴۷ کال د رمضان المبارک ۲۲ نېټه وکتل او د دوه اړخیزو همکاریو د پراختیا په اړه یې خبرې وکړې.

محترم ترابي صاحب د ادارې د فعالیتونو د تشریح پر مهال وویل چې دا اداره پر پنځو اساسي موخو؛ وقایې، د خطر کمول، چمتووالي، ځواب ویني او بیارغونې کار کوي او اوس مهال د بشري مرستو د وېش تر څنګ، وقایوي پروژو لکه د خوړونو پاکولو او د ګبیونې او استنادي دېوالونو پر جوړولو تمرکز لري.

هغه همدارنګه وویل چې د اقلیمي بدلونونو له امله د افغانستان د اغېزمن کېدو په پام کې نیولو سره، تمویل کوونکي باید له سیاسي ملاحظاتو پرته له هېواد سره په دې برخه کې همکاري وکړي او په دې برخه کې د دې ترڅنګ چې د مرستندویه بنسټونو او مؤسسو لپاره مو لازمې اسانتیاوې برابرې کړې دي او د پېښو د مدیریت په برخه کې مو د خپلو لومړیتوبونو لړلیک هم ترتیب کړی دی، تر څو د هغوی لپاره د مرستو، د پروژو د پلي کولو او د تمویل کوونکو له لوري د بودجې د ترلاسه کولو لاره روښانه شي.

په همدې حال کې د سویس د پراختیا او همکارۍ ادارې رئیس د خپلې ادارې د فعالیتونو د تشریح ترڅنګ وویل چې اوس مهال زموږ په فعالیتونو کې درې برخې لکه، د بشر حقوق، د اقلیم بدلونونه او بشري مرستې او همدارنګه د خصوصي سکتور د ملاتړ له لارې د اقتصادي بیاځواکمنتیا شاملې دي.

نوموړي وویل چې یاده اداره  له څونو کلونو راهیسې فعالیت کوي، خو له یو کال راهیسې یې د افغانستان له تخنیکي ادارو سره د نږدې همکارۍ په موخه بېرته حضوري فعالیتونه پیل کړي دي او ګډ کار او له سکتوري ادارو څخه مشورې ترلاسه کول د پروژو د بریا او اغېزمنتیا مهم لامل ګڼي.

نوموړي همدارنګه وویل چې هڅه کوي چې د تخنیکي ادارو سره د نږدې همکارۍ له لارې له تمویل کوونکو څخه زیاته بودجه ترلاسه کړي او پروژې به د داخلي مؤسسو له لارې پلي کوي.

همدارنګه د یادې ادارې مرستیالې، آغلې پامیله ستتاکیس او د اقلیمي بدلونونو او د پېښو د برخې مسؤل، محمد مصطفی صاحب‌زاده د خپلو روانو پروژو په اړه معلومات وړاندې کړل او ویې ویل چې د ماین پاکۍ په برخه کې یوه پروژه په پام کې لري او څلور نورې پروژې هم د مؤسسو له لوري د پلي کېدو په حال کې دي چې هره یوه یې د پېښو د مدیریت له یوې برخې سره تړاو لري.

په پای کې دواړو لوریو د تخنیکي برخو له لارې د همکاریو د کچې پر زیاتولو ټینګار وکړ او د ترابي صاحب له لوري ښاغلي اریک مارکولي ته هغه ډالۍ هم وسپارل شوه چې د نوموړي لپاره په پام کې نیول شوې وه.

# دیدار رئیس عمومی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث با رئیس دفتر UN-OCHA در افغانستان



محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، رئیس عمومی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، در دفتر کاری خویش با خانم ریمی مارشین، رئیس دفتر هماهنگی امور بشردوستانه ملل متحد (UN-OCHA) در افغانستان، رامی برادر رئیس گروپ کاری چندبعدی کمک‌های نقدی و شمس خلیلی رئیس زون جنوب‌شرق، بتاریخ ۲۲ رمضان المبارک سال ۱۴۴۷ هـ‌ق دیدار و گفتگو نمود.


در آغاز محترم ترابی صاحب از همکاری‌ها و هماهنگی‌های دوامدار دفتر هماهنگی امور بشردوستانه سازمان ملل متحد (OCHA) با این اداره قدردانی نموده گفت که در حالات اضطراری و هنگام وقوع حوادث بزرگ، این اداره به‌گونه نزدیک با نهادهای بشردوستانه، به‌ویژه دفتر(OCHA)، هماهنگی می‌نماید تا روند رسیدگی به متضررین به‌گونه مؤثر انجام شود.

رئیس عمومی اداره همچنان در مورد وضعیت بیجاشده‌گان در ۱۰ ولایت کشور معلومات ارائه نموده و تأکید کرد که با افزایش نیازهای بشردوستانه، لازم است همزمان با انجام سروی‌ها، روند توزیع کمک‌های عاجل برای خانواده‌های بیجاشده هرچه زودتر آغاز گردد. وی از طرفی به خسارات ناشی از خشکسالی در برخی ولایات اشاره نموده و بر رسیدگی بهتر، عادلانه و یکسان به تمام متضررین حوادث طبیعی در سراسر کشور تأکید کرد.

در همین حال، خانم ریمی مارشین، رئیس دفتر هماهنگی امور بشردوستانه سازمان ملل متحد (OCHA) در افغانستان، ضمن قدردانی از همکاری‌های اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، گفت که روند سروی بیجاشده‌گان جنگ های اخیر از سوی تیم‌های مربوطه جریان دارد. وی افزود که توزیع کمک‌های بشردوستانه از سوی برنامه جهانی غذا (WFP) آغاز شده و قرار است تا هفته آینده از طریق سایر مؤسسات همکار این روند گسترش یابد تا نیازهای اساسی خانواده‌های آسیب‌دیده و بیجاشده برطرف گردد.


در پایان این دیدار، دو طرف بر تسریع روند توزیع کمک‌های بشردوستانه برای بیجاشده‌گان، به‌ویژه در ولایات مرزی با پاکستان، رسیدگی عادلانه و شفاف به متضررین حوادث و تقویت همکاری‌های همه‌جانبه میان این اداره و نهادهای بشردوستانه بین‌المللی تأکید کردند.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د ماشومانو د ملاتړ مؤسسې ترمنځ ټولټال د (۸۴۱,۱۲۲) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، په خپل کاري دفتر کې د ماشومانو د ملاتړ مؤسسې له مرستیال محمود پاچا سره د ۱۴۴۷ کال د رمضان المبارک ۱۹ نېټه وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه يې ورسره لاسلیک کړه.
په دې ناسته کې ترابي صاحب ووېل، له دې امله چې د ننګرهار، کونړ، خوست، پکتیا او پکتیکا ولایتونو کې د وروستیو بریدونو له امله د بې‌ځایه شویو کسانو شمېر زیات شوی، نو زموږ اصلي تمرکز اوس د هغوی د حالت او معیشت ته پر رسېدنې دی او له مؤسسو غواړو چې په دې شرایطو کې د بې‌ځایه شویو تر څنګ ودرېږي او لازمې مرستې ورسره وکړي. هغه همدارنګه د یادې مؤسسې د ترسره شویو فعالیتونو راپور ترلاسه کولو وروسته د تفاهم‌نامې د موادو پر وخت او په شفاف ډول د پلي کېدو ټینګار وکړ.
په همدې حال کې د ماشومانو د ملاتړ مؤسسې مرستیال د یادې تفاهم‌نامې په اړه معلومات وړاندې کړل او په ننګرهار او کونړ ولایتونو کې د خپلو ترسره شویو فعالیتونو لنډ راپور يې شریک کړ. د هغه په وینا، په ننګرهار ولایت کې د ۱۱۲ بې‌ځایه شویو کورنیو سره نغدي مرسته شوې او په کونړ ولایت کې ۹۹ بې‌ځایه شویو کورنیو ته غیرخوراکي مرستندویه بستې د یادو ولایتونو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاستونو په همغږۍ وېشل شوې دي.
د یادونې وړ ده چې د ناستې په پای کې د دواړو لورو ترمنځ ټولټال د اته سوه او یو څلوېښت زره او یو سل او دوه ویشت (۸۴۱,۱۲۲) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه، د دې تفاهم‌نامې له مخې به په وچکالۍ ځپلو سیمو کې، د جوزجان ولایت د شبرغان ښار او قرقین ولسوالۍ، د سرپل ولایت د سرپل ښار او صیاد ولسوالۍ او د فاریاب ولایت د پښتونکوټ ولسوالۍ کې ۱۳ د اوبو شبکې جوړې او ۱۴ نورې تخریب شوې شبکې په اساسي ډول ترمیم شي. همدارنګه د وچکالۍ له امله زیانمنو ۳۱۳۱ کورنیو ته به د حفظ الصحې بستې ووېشل شي او د سیمې خلکو ته به د حفظ الصحې او په سمه توګه د اوبو شبکو د کارولو په اړه عامه پوهاوی ورکړل شي.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بلخ برای ۲،۲۰۰ خانواده مستحق مساعدت‌های نقدی و غذایی توزیع کرد




براساس تفاهم‌نامه امضا شده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه SFL که تمویل‌کننده این پروژه سازمان جهانی غذا (WFP) می‌باشد، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بلخ با همکاری مؤسسه متذکره، پس از سروی بتاریخ ۲۰ رمضان المبارک سال ۱۴۴۷ هـ ق برای ۲،۲۰۰ خانواده آسیب‌دیده از خشک‌سالی در نواحی مختلف شهر مزارشریف، مرکز آن ولایت، مساعدت‌های نقدی و غذایی توزیع نمود.
در این روند، با حضور مسئولان به هر خانواده مبلغ ۲،۹۰۰ افغانی توزیع گردید که در مجموع شش میلیون و سه صد و هشتاد هزار (۶،۳۸۰،۰۰۰) افغانی پول نقد برای این تعداد خانواده اختصاص داده شده بود. همچنان برای هر یک از خانواده‌های دارای زنان باردار و کودکان از میان این خانواده‌ها، مقدار ۱.۵ کیلو پلمپی سوپر سریل نیز توزیع گردید.

## د بغلان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۸۶۰ مستحقو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د ASIO موسسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، چې د پروژې تمویل کوونکی یې د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) دی، د بغلان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالي ملاتړ، د دې ولایت د پلحصارات ولسوالۍ ۸۶۰ مستحقو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د رمضان المبارک ۱۸ نېټه خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې بهیر کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې ۵۰ کیلو اوړه، ۶.۲۵ کیلو دالنخود، ۵ لیټره غوړي او ۱ کیلو مالګه ووېشل شوه.

## د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۳۳ زیانمنو کورنیو ته نغدې مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د لوی رئیس محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د لارښوونې پر بنسټ، د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د افغانستان او پاکستان ترمنځ د وروستیو نښتو او د یاد هېواد له لوري د بریکوټ، دانګپور، مرکزآباد او د ناري ولسوالۍ د یو شمېر کلیو پر سیمو د راکټي بریدونو له امله، د هغو ۹ تنو ملکي وګړو وارثینو ته چې په شهادت رسېلي وو او ۲۴ نورو ټپیانو ته د ۱۴۴۷ کال د رمضان المبارک ۱۸ نېټه نغدې مرستې ووېشلې.

په دې بهیر کې د مسؤلینو په شتون کې د هر شهید ورثه ته ۲۰,۰۰۰ افغانۍ او هر ټپي ته ۱۰,۰۰۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې په ټولیز ډول د دې کورنیو لپاره څلور سوه او شل زره (۴۲۰,۰۰۰) افغانۍ ځانګړې شوې وې.

## کشف و خنثی‌سازی مهمات منفجرناشده در ولایت فراه

بر اساس هماهنگی ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت فراه با تیم تخنیکی ماین‌پاکی مؤسسه DRC، شماری از مهمات منفجرناشده باقی‌مانده از جنگ‌های گذشته را در آن ولایت بتاریخ ۱۸ رمضان المبارک سال ۱۴۴۷ هـ ق کشف و به‌گونه‌ای مصئون خنثی شد.

در میان این مهمات، ۴۲ فیر مرمی ۸۳ میلی‌متری، ۶ فیر مرمی دهشکه ۱۲ میلی‌متری، ۲۳ فیر مرمی زیکویک ۱۴ میلی‌متری و دو مرمی هاوان ۸۲ میلی‌متری شامل بودند که از ساحه قریه کاریز حکیم، ولسوالی پشتکوه، ولایت فراه به‌دست آمده بودند. این مهمات با هماهنگی مسئولان محلی و رعایت کامل اصول ایمنی، توسط تیم های مسلکی خنثی گردید.




مسئولان ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت فراه تأکید می‌کنند که مهمات منفجرناشده باقی‌مانده از جنگ‌های گذشته همواره تهدید جدی برای جان مردم، به‌ویژه کودکان، به‌شمار می‌رود. از همین‌رو، تلاش‌ها برای شناسایی، جمع‌آوری و پاکسازی این‌گونه مهمات به‌طور دوامدار ادامه دارد.

# آغاز کار تحکیم کانال‌های آبیاری و پاک‌کاری بستر دریا در مرکز ولایت پنجشیر




ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پنجشیر به اساس سروی و ارزیابی تخنیکی کمیسیون ولایتی، کار تحکیم کانال‌های آبیاری و پاک‌کاری بستر دریا را در قریه‌های عزیزبیگ‌خیل، خانیز و نیازبیگ خیل مربوط مرکز آن ولایت بتاریخ ۱۸ رمضان المبارک سال ۱۴۴۷ هـ ق آغاز نمود.

این پروژه با همکاری باشندگان محل و به ارزش مجموعی ۱۲۰ هزار افغانی تطبیق می‌شود که شامل تحکیم دیوارهای دو کانال آبیاری و پاک‌کاری اطراف آن‌ها به طول ۱۰۰ متر است. هدف از اجرای این پروژه جلوگیری از تخریب کانال آبیاری و لین برق و کاهش خطرات ناشی از حوادث طبیعی در این ساحه می‌باشد.

# د هلمند ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۰۷ زیانمنو کورنیو ته نغدي مرستې ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د DHSA مؤسسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، د هلمند ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د يادې مؤسسې په مالي ملاتړ، د دې ولایت په سنګین او مارجې ولسوالۍ کې ۱۰۷ زیانمنو کورنیو ته د هغو د کورنو د جوړولو او ترمیم په موخه له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د رمضان المبارک ۱۹ نېټه نغدي مرستې ووېشلې.




په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې په بشپړ توګه تخریب شویو کورنیو هرې یوې ته ۱۰۰۱.۵ ډالرو معادل افغانۍ او په قسمي توګه تخریب شویو کورنیو هرې یوې ته د ۲۷۵ ډالرو معادل افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال د یاد شمېر کورنیو لپاره شپږ پنځوس زره او درې سوه او پنځه اعشاریه پنځه (٥٦٣٠٥.٥) ډالره نغدي پیسې ځانګړې شوې وې.

په پای کې، د مرستو ترلاسه کوونکو کورنیو له اړوندو مسؤلینو څخه د مرستو د ورکولو له امله مننه وکړه او زیانمنو کورنیو ته یې د ورته مرستو د دوام غوښتنه وکړه.

# په ارزګان ولایت کې ناچاوده توکي کشف او خنثی شول



د ارزګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست سره په همغږۍ د DAFA ماین‌پاکۍ موسسې تخنیکي ټیم، د یاد ولایت په مرکزترینکوټ کې د خانقۍ په سیمه کې د تېرو جګړو پاتې شوي یو شمېر ناچاوده توکي د ۱۴۴۷ کال د رمضان المبارک ۱۹ نېټه کشف او په خوندي ډول شنډ کړل.

د یادونې وړ ده، چې په دې توکو کې پنځه عدد بېلابېل ناچاوده توکی شامل وو، چې د خانقۍ د کلي له سیمې څخه ترلاسه شول او د خوندیتوب بشپړو اصولو په مراعتولو سره له منځه یوړل شول.

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست مسئولینو وویل، ناچاوده توکي د ښاریانو، په ځانګړې ډول د ماشومانو، د ژوند لپاره جدي ګواښ ګڼل کېږي. هغوی د سیمې له اوسېدونکو وغوښتل چې د شکمنو توکو د لېدو په صورت کې دې له لاس وهلو څخه ډډه وکړي او دموضوع په اړه دې سمدستي اړوندو مسئولینو ته راپور کړي.

## د کندهار ولایت په ارغنداب ولسوالۍ کې چاودېدونکي توکي کشف او خنثی شول



د کندهار ولایت له پیښو سره د مبارزې آمادګي ریاست، د ارغنداب ولسوالۍ د اوسېدونکو او امنيتي مسؤولينو د اړيکي پر بنسټ، د DRC د ماين پاکي مؤسسې د (AIM-01) ټيم د ماين‌پاکۍ د عملياتو په موخه د کندهار ولایت د ارغنداب ولسوالۍ د منصور اباد ماين کو پای کاريز ته د ۱۴۴۷ کال د رمضان المبارک ۱۹ نېټه واستوو.
یاد ټيم د ماين پاکۍ عملياتو په ترځ کې له تېرو جګړو څخه پاتې شوي ۹ د هاوان مرمی کشف او په خوندي توګه له منځه یووړې.
له پيښو سره د مبارزې آمادګي رياست له خلکو غوښتنه کوي چې د هر ډول چاوديدونکي او مشکوک توکي د ليدلو په صورت کې دي ژر تر ژره له اړوند مسؤلينو سره اړيکه ونيسئ چې تر څو يې د له منځه وړلو لپاره پر وخت اړين اقدامات ترسره شي.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بدخشان برای ۵۶۳ خانواده مستحق کمک‌های غذایی و غیرغذایی توزیع کرد





ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بدخشان، پس از سروی، بتاریخ ۱۹ رمضان المبارک سال ۱۴۴۷ هـ ق کمک های غذایی و غیرغذایی برای ۵۶۳ خانواده مستحق در آن ولایت توزیع نمود.
در این روند با حضور مسئولان، به هر خانواده ۵۰ کیلو آرد، ۲۵ کیلو برنج و به برخی خانواده‌ها یک تخته پتو و ژاکت زنانه نیز توزیع شد.

## د باميان ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رياست ۸۰۰ مستحقو کورنيو ته نغدې مرستې ووېشلې




له پيښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري او په آسیا کې د نړۍ ټولنيزو خدمتونو (CWSA) موسسې ترمنځ د لاسليک شوي هوکړه ليک له مخې، د باميان ولايت له پيښو سره د مبارزې آمادګۍ رياست د يادي موسسې په مالي ملاتړ، د دې ولایت د يکه ولنګ نمبر ۱ ولسوالۍ ۸۰۰ مستحقو کورنيو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د رمضان المبارک ۲۰ نېټه د څلورم پړاو نغدې مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلينو په شتون کې، ۲،۵۹۷ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال دوه ميليونه او اووه اويا زره او شپږ سوه (۲،۰۷۷،۶۰۰) افغانۍ نغدې پيسې د ياد شمېر کورنيو لپاره ځانګړې شوي وې.
د يادوني وړ ده، چې په راتلونکې يوه مياشت کې به هم يادې کورنيو ته دا مرستې ووېشل شي.

# ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت فاریاب برای ۵۷۵ خانواده مستحق مساعدت‌های غذایی توزیع کرد




بر اساس تفاهم‌نامه امضا شده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه (OCHR)، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت فاریاب با حمایت مالی مؤسسه متذکره، پس از سروی بتاریخ ۲۰ رمضان المبارک سال ۱۴۴۷ هـ ق برای ۵۷۵ خانواده مستحق در ولسوالی المار آن ولایت مساعدت‌های غذایی توزیع نمود.

در این روند، با حضور مسئولان به هر خانواده یک بوری ۵۰ کیلویی آرد، ۵ لیتر روغن، ۲ کیلو لوبیا، ۲ کیلو دال نخود و نیم کیلو نمک توزیع گردید.

# د بادغیس ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۵۰۰ وچکالۍ ځپلو کورنیو ته نغدي مرستې ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د (World Vision) مؤسسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، د بادغیس ولاست له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د يادې مؤسسې په ملاتړ، د دې ولسوالۍ په جوند ولسوالۍ کې ۱۵۰۰ وچکالۍ ځپلو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د رمضان المبارک ۲۰ نېټه نغدي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته ۵۰۸۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال د یاد شمېر کورنیو لپاره اوه میلیونه او شپږ سوه او شل زره (۷،۶۲۰،۰۰۰) افغانۍ نغدي پیسې ځانګړې شوې وې.




# ریاست آمادگی مبارزه باحوادث ولایت بامیان برای ۱۹۰۰ فامیل مستحق مساعدت نقدی توزیع نمود

بر اساس تفاهم نامه امضا شده میان اداره ملی آمادگی مبارزه باحوادث وموسسه خدمات اجتماعی جهان در آسیا CWSA، ریاست آمادگی مبارزه باحوادث ولایت بامیان باحمایت مالی موسسه متذکره، پس از سروی بتاریخ ۲۰ رمضان المبارک سال ۱۴۴۷ هـ ق مرحله چهارم کمک های نقدی را برای ۱۹۰۰ فامیل مستحق ونیازمند درمرکز ولایت بامیان توزیع نمود.

دراین روند با حضور مسئولان، به هر خانواده مبلغ ۲,۵۹۷ افغانی پول نقد توزیع گردید که درمجموع مبلغ چهارمیلیون و نه صد و سی وچهارهزارو سه صد (۴۹۳۴۳۰۰) افغانی پول نقد برای این تعداد خانواده اختصاص یافته بود.

قابل ذکر است که این خانواده‌ها در یک ماه آینده نیز تحت پوشش کمک های نقدی موسسه متذکره قرار خواهد گرفت.



## د سمنگان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲،۲۰۰ مستحقو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د ASIO موسسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، چې د پروژې تمویل کوونکی یې د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) دی، د سمنګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په همکارۍ، د دې ولایت د حضرت سلطان ولسوالۍ اړوند ۲،۲۰۰ مستحقو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د رمضان المبارک ۲۰ نېټه خوراکي مرستې ووېشلې.
په دې بهیر کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې ۵۰ کیلو اوړه، ۶.۲۵ کیلو دالنخود، ۴.۵۵ لیټره غوړي او نیم کیلو مالګه ووېشل شوه.

## د پکتیکا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۰۰ کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د محترم مقام په لارښوونه، د پکتیکا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د دې ولایت د نکه او زیروک ولسوالیو اړوند ۲۰۰ مستحقو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د رمضان المبارک ۲۰ نېټه خوراکي مرستې ووېشلې.
په دې بهیر کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې دوه بورۍ ۵۰ کیلویي غنم ووېشل شول.

## د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۵۰ زلزله ځپلو کورنیو ته نغدې مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آماګۍ ملي ادارې او د COAR موسسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالي ملاتړ، په دره نور ولسوالۍ کې د زلزله ځپلو کورنیو لپاره د سرپنا(شیلټر) جوړولو په چوکاټ کې ۵۰ زیانمنو کورنیو ته د ۱۴۴۷ کال د رمضان المبارک ۲۱ نېټه نغدې مرستې ووېشلې.
په دې بهیر کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته ۵۱،۶۵۰ افغانۍ د لومړي قسط په ووېشل شوې، چې ټولټال دوه میلیونه او پنځه سوه دوه اتیا زره او پنځه سوه (۲،۵۸۲،۵۰۰) افغانۍ نغدې پیسې د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.
مسؤلینو د مرستو د وېش پر مهال ټینګار وکړ چې د سرپناوو د جوړولو بهیر باید د ټاکل شویو تخنیکي معیارونو سره سم ترسره شي، تر څو زیانمنو کورنیو ته معیاري او خوندي سرپناوې برابرې شي.

## د ارزګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۵ مستحقو کورنیو نغدي مرستې وویشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري او د DHSA موسسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، د ارزګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په ملاتړ، د دې ولایت د مرکز ترینکوټ اړوند ۲۵ مستحقو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د رمضان المبارک ۲۰ نېټه نغدي مرستې وویشلې.
په دې بهیر کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې ۱۷,۳۵۰ افغانۍ وویشل شوې، چې ټولټال څلور سوه او دری دېرش زره او اووه سوه او پنځوس (۴۳۳,۷۵۰) افغانۍ نغدي پیسې د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لوگر برای اطفال دارالایتام کیت‌های البسه توزیع کرد




ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لوگر با همکاری سازمان یونیسف، بتاریخ ۲۱ رمضان المبارک سال ۱۴۴۷ هـ ق برای اطفال مستحق دارالایتام و مدرسه‌ها در مرکز آن ولایت کیت‌های البسه توزیع نمود.
در این پروسه با حضور مسئولان، به هر کدام یک بسته البسه توزیع گردید.

## د فاریاب ولایت په دولت آباد ولسوالۍ کې بېلابېل چاودېدونکي توکي کشف او خنثی شول




د فاریاب ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د (DAFA) ماین پاکۍ مؤسسې په ملاتړ د یاد ولایت د دولت آباد ولسوالۍ اړوند بېلابېل چاودېدونکي توکي د ۱۴۴۷ کال د رمضان المبارک ۲۱ نېټه کشف او په خوندي توګه له منځه یوړل.
د دې عملیاتو په پایله کې، یوه کړۍ RTM ډوله ماین او یوه ۷۲ ملي مترۍ مرمۍ، چې د سیمه ییزو اوسېدونکو ژوند یې له خطر سره مخ کړی وو له منځه یوړل شوه.
یاد عملیات له چاودېدونکو توکو څخه د سیمه ییز خلکو د ځانونو او مالونو د خوندیتوب په موخه ترسره شول.

## د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې ریاست د ماینونو او ناچاوده توکو له امله ۲۴ تنه ټپیانو ته نغدې مرستې ووېشلې




د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د DRC موسسې په مالي ملاتړ د یاد ولایت په درهٔنور، شېرزاد، اچین، کامه، خوګیاڼي، هسکهٔمینه، بهسود، رودات ولسوالیو او جلال آباد ښار اړوند د ماینونو او ناچاوده توکو له امله ۲۴ تنه ټپیانو ته د ۱۴۴۷ کال د رمضان المبارک ۲۱ نېټه نغدې مرستې ووېشلې.

دا مرستې د یادو کسانو د ټپونو شدت په پام کې نیولو سره ووېشل شوې، چې ټولټال درې سوه او دوه شپېته زره او نه سوه (۳۶۲,۹۰۰) افغانۍ نغدې پیسې د یاد شمېر ټپیانو لپاره ځانګړې شوې وې.

## د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۴۰۰ مستحقو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې





د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د احساس خیریه بنسټ په ملاتړ، ۴۰۰ مستحقو کورنیو ته د ۱۴۴۷ کال د رمضان المبارک ۲۱ نېټه خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.

په دې بهیر کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته ۵۰ کیلو اوړه، ۵ لیتره غوړي، نیم من بوره، نیم من لوبیا او یو کیلو خرما ووېشل شوه.

د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس، مولوي نثار احمد نجات د احساس خیریه بنسټ له همکارۍ څخه د قدردانۍ ترڅنګ د مستحقو کورنیو د ملاتړ پر دوام ټینګار وکړ.

د یادونې وړ ده، چې له مرستو برخه منو کورنیو د روژې په مبارکه میاشت د مرستو د وېش په پار خوښي څرګنده کړه.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت تخار برای ۲۰۰ خانواده عودت‌کننده اجباری کمک‌های نقدی توزیع کرد




ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت تخار با همکاری مالی تاجران آن ولایت، پس از انجام سروی، بتاریخ ۲۱ رمضان المبارک سال ۱۴۴۷ هـ ق برای ۲۰۰ خانواده عودت‌کننده که به‌گونه اجباری از کشورهای همسایه بازگردانده شده و در آن ولایت مستقر شده اند، کمک‌های نقدی توزیع نمود.

در این روند، به هر خانواده در حضور مسئولان محلی مبلغ ۳،۰۰۰ افغانی توزیع گردید که در مجموع شش‌صد هزار (۶۰۰،۰۰۰) افغانی پول نقد برای این تعداد خانواده اختصاص یافته بود.

## د نیمروز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست ۲۰۱ کورنیو ته نغدې او خوراکي مرستې ووېشلې



د نیمروز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست، د دې ولایت د چخانسور ولسوالۍ او دلارام ولسوالۍ اړوند ۲۰۱ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د رمضان المبارک ۲۲ نېټه نغدې او خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې بهیر کې د مسؤلینو په شتون کې د چخانسور ولسوالۍ ۲۰۰ کورنیو هرې یوې ته اوړه، بوره او چای او همدارنګه د دلارام ولسوالۍ یوې کورنۍ ته چې ماشوم یې د خاشرود په سیند کې د غرق کېدو له امله شهید شوی و، له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ملي اداري د مقام په لارښوونه ۲۰،۰۰۰ افغانۍ نغدې پیسې ووېشل شوې.

## د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست ۱۷۵ بېځایه شویو کورنیو ته نغدي مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ملي اداري او د (Save the children) مؤسسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست د یادې مؤسسې په مالي ملاتړ، د دې ولایت په اچین، سپین غر، نازیان او شینوارو ولسوالیو کې د ورستۍ جګړې له امله بېځایه شویو ۱۷۵ کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د رمضان المبارک ۲۲ نېټه نغدي مرستې ووېشلې.

د مرستو په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۱۰،۶۵۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال د مرسته کوونکو کورنیو لپاره یو میلیون او اته سوه او درې شپېته زره او اوه سوه او پنځوس (۱،۸۶۳،۷۵۰) افغانۍ نغدي پیسې ځانګړې شوې وې.

د یادونې وړ ده، چې دا مرستې له اړوندو کورنیو سره د هغوی د بیړنیو اړتیاوو د پوره کولو په موخه ترسره شوې.

## د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست ۲۲۹ کورنیو ته نغدي مرستې ووېشلې



د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست د DRC او د SCI موسسو په مالي همکارۍ، د دې ولایت په بېلابېلو ولسوالیو کې د پاکستان د بریدونو له امله بېځایه شویو او د ماینونو او ناچاوده توکو له امله زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د رمضان المبارک ۲۲ نېټه نغدي مرستې ووېشلې.

په دې بهیر کې د مسؤلینو په شتون کې د SCI موسسې له لوري ۲۰۰ بېځایه شویو کورنیو هرې یوې ته ۱۰،۶۰۰ افغانۍ او د DRC موسسې له لوري ۲۹ زیانمنو کورنیو هرې یوې ته ۱۲،۵۰۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال دوه میلیونه او څلور سوه او دوه اتیا زره او پنځه سوه (۲،۴۸۲،۵۰۰) افغانۍ نغدې پیسې د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

## د کندهار ولایت په لوړشاولیکوټ ولسوالۍ کې د یو ګیبیوني استنادي دېوال د جوړولو چارې بشپړې اوګټې اخیستنې ته وسپارل شوې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د لوی رئیس محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د لارښوونې له مخې، د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د یاد ولایت د لوړشاولیکوټ ولسوالۍ په تیزک کلي کې د یو ګیبیوني استنادي دېوال د جوړولو چارې د یو میلیون او شپږ سوه او اوه نیوي زره او دوه سوه او یو پنځوس (۱،۶۹۷،۲۵۱) افغانیو په لګښت سره د ۱۴۴۷ کال د رمضان المبارک ۲۳ نېټه بشپړې اوګټې اخیستنې ته وسپارلې.

یاده پروژه د ۸۲ متره اوږدوالي، ۴ متره لوړوالي او ۳ متره سور په درلودلو سره د سېلابونو له امله د رامنځته کېدونکو خطرونو د مخنیوي په موخه بشپړه شوه.

د یادونې وړ ده، چې د دې ګبیوني استنادي دیوال په جوړولو سره هستوګنیز کورونه او کرنیزې ځمکې د سیلابونو له احتمالي خطرونو څخه خوندي شول.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پنجشیر برای ۲۴۴ خانواده مستحق کمک های خوراکی و غیرخوراکی توزیع نمود

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پنجشیر، به‌منظور رسیدگی به وضعیت خانواده‌های مستحق و متضرر از حوادث طبیعی، برای ۲۴۴ خانواده در ولسوالی های پریان و آبشار پس از سروی، بتاریخ ۲۲ رمضان المبارک سال ۱۴۴۷ هـ ق کمک های خوراکی و غیرخوراکی توزیع نمود.

در این روند با حضور مسئولان، به هر خانواده یک بوری گندم ۵۰ کیلویی و البسه توزیع گردید.




## د فاریاب ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۹۷۵ کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د بشري مرستو د همغږۍ موسسې (OCHR) ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، د فاریاب ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په همکارۍ، د دې ولایت د قیصار ولسوالۍ ۹۷۵ مستحقو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د رمضان المبارک ۲۳ نېټه خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې بهیر کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته ۵۰ کیلو اوړه، ۵ لیټره غوړي، نیم کیلو مالګه، ۲ کیلو لوبیا او ۲ کیلو دالنخود ووېشل شول.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کندهار برای ۲۱ خانواده مستحق کمک نقدی توزیع کرد



بر اساس تفاهم‌نامه امضا شده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و شورای مهاجران دنمارک(DRC)، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کندهار با حمایت مالی این مؤسسه برای ۱۹ خانواده مستحق و ۲ خانواده آسیب‌دیده از ماین بتاریخ ۲۳ رمضان المبارک سال ۱۴۴۷ هـ ق کمک‌های نقدی توزیع کرد.

در این روند، پس از انجام سروی و با حضور مسئولان، به هر خانواده از ۱۲،۰۰۰ تا ۲۹،۸۰۰ افغانی پرداخت شد که در مجموع مبلغ ۳۶۷،۳۰۰ (سه صد و شصت و هفت هزار و سه صد) افغانی پول نقد برای این تعداد خانواده اختصاص یافته بود.

## د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۰۳ زلزله ځپلو کورنیو ته نغدې مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د ډنمارک د کډوالو شورا (DRC) ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړې لیک له مخې، د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په همکارۍ، د دې ولایت د نورګل ولسوالۍ د مزار درې اړوند ۲۰۳ کورنیو ته چې د زلزلې له امله زیانمنې شوې وې، له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د رمضان المبارک ۲۳ نېټه نغدې مرستې ووېشلې.

په دې بهیر کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته ۱۰،۶۳۰ افغانۍ ووېشل شوې وې، چې ټولټال دوه میلیونه او یو سل او اووه پنځوس زره او اته سوه او نوي (۲،۱۵۷،۸۹۰) افغانۍ نغدې پیسې د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ننگرهار برای ۱۷۶ خانواده بیجاشده داخلی کمک‌های نقدی توزیع کرد



بر اساس تفاهم‌نامه امضا شده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه ACTED، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ننگرهار با حمایت مالی این مؤسسه، پس از انجام سروی، برای ۱۷۶ خانواده بیجاشده داخلی که در نتیجه درگیری‌های اخیر در ولسوالی‌های شینواری، مهمندره و دوربابا آن ولایت بیجا شده بودند، بتاریخ ۲۳ رمضان المبارک سال ۱۴۴۷ هـ ق کمک‌های نقدی توزیع نمود.

در این روند، در حضور مسئولین برای ۱۳۴ خانواده هر خانواده مبلغ ۱۰،۸۱۰ افغانی و برای ۴۲ خانواده هر کدام مبلغ ۱۲،۹۸۰ افغانی توزیع گردید. در مجموع برای این تعداد خانواده‌ها مبلغ یک میلیون و نه‌صد و نود و سه هزار و هفت صد (۱،۹۹۳،۷۰۰) افغانی اختصاص داده شده بود.

## د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۵۶۸ مستحقو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د اسلامي هوساینې نړیوالې (IRW) موسیسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې مؤسسې په ملاتړ، د دې ولایت په سپین بولدک او تخته پل ولسوالیو کې ۵۶۸ مستحقو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د رمضان المبارک ۲۳ نېټه د خوراکي توکو مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې، هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۵۰ کیلو اوړه، ۱۰ کیلو وریجې، ۸ لیتره غوړي، ۲۰ پاکټه آش، ۷ کیلو دال نخود، ۵ کیلو لوبیا او ۳ کیلو خرما وویشل شوه.


## د بلخ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲,۹۹۲ وچکالۍ ځپلو کورنیو ته نغدي او خوراکي مرستې ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د SFL موسسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، چې د پروژې تمویل کوونکی یې د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) دی، د بلخ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په همکارۍ، د دې ولایت په شورتېپه دولت آباد ولسوالیو کې ۲,۹۹۲ وچکالۍ ځپلو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د رمضان المبارک ۲۴ نېټه نغدي او خوراکي مرستې ووېشلې.
په دې بهیر کې د مسؤلینو په شتون کې د دولت آباد ولسوالۍ ۲,۸۵۰ کورنیو هرې یوې ته ۲,۹۰۰ افغانۍ، چې ټولټال اته میلیونه او دوه سوه او پنځه شپېته (۸,۲۶۵,۰۰۰) افغانۍ کېږي یادو کورنیو ته ووېشل شوې، همدارنګه د شورتېپه ولسوالۍ ۱۴۲ کورنیو هرې یوې ته، ۵۰ کیلو اوړه، ۴.۵۵ لیتره غوړي، ۶.۲۵ کیلو دالنخود او نیم کیلو مالګه ووېشل شوه.




## د پکتیکا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۰۰ مستحقو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د لارښوونې له مخې، د پکتیکا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د دې ولایت د ګیان ولسوالۍ ۱۰۰ مستحقو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د رمضان المبارک ۲۳ نېټه خوراکي مرستې ووېشلې.
په دې بهیر کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته دوه بورۍ ۵۰ کیلویي اوړه ووېشل شول.




## عامه پیغامونه :

16. په هغو ځایونو کې چې د واورې ښویدو یا غر ښویدو احتمال وي په احتیاط ورڅخه تېرېږئ
17. د دې لپاره چې ستاسو په هستوګن ځایونو کې اورلګیدنه رامنځته نشي د ګازو د ډبو څخه په ډېر احتیاط او کاراخلئ
18. د دې لپاره چې ستاسو په هستوګن ځایونو کې د برېښنا د شارټي له کبله اورلګیدنه رامنځته نشي په ډېر احتیاط برېښنا وکاروئ